
مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۱۲/۳۱

# پینځه‌ویشت کاله روسته


## هوسۍ -۲-



# دهوسۍ د ډرامې په باب

رمـزنګاري (SYMBOLISM) دلیـکوالۍ یـو اسلـوب دی ، دلویدیز والو په وینا دغـه اسلوب د نولسمې عیسـوي سدۍ په پای کې لومړی ځل په فـرانسـه کې منځ ته راغلی دی ، خـوزه وایم رمـزنګاري دمحاکات ترسرلیك لاندې په ختیز کې تقریباً تر دوو زرو کالو پخوا باب و ، په سنسکریت ژبه کې دهندوستاني فیلسـوف «بیدپا» تألیف «کرتکا دمنکا» چې موږ یې اوس « کلیله دمنه » بولو ددې ادعا شاهد دی ، دغه کتاب دساسانیانو د نامتو پاچا نوشیروان (۵۳۱-۵۷۹ع) په وختو کې په ساساني پهلوي ژباړل شوی دی .(۱)

زموږ دځوان رمزنګار(SYMBOLIST) شاعر (عبدالغفور لیوال) دهوسۍ ډرامه په پښتو ادب کې دځیل اسلوب له مخې درمزنګارۍ یوه ښه نمونه ده ، په دغه ډرامه کې **هوسۍ** دځپلواکۍ رمزدی ، او **دلوړو غرونو کلی** دګران افغانستان سمبول یوسل و څلور شپیته کاله (۱۲۵۵-۱۴۱۹ هـ ق) کیږي دلوړو وغرونو دکلي دنازولي اوښایستې هوسۍ دځپلولو له پاره لاټ دیو ( لویدیز استعمار) او بیا اوردیو ( ختیز استعمار) ناپاکې لیځې راغښتې دي (۲) ، ددوی دخونریزو او مهاجمو لښکرو د وحشیانه برید له کبله چې نازولې او ښایستې هوسۍ ته کوم مصیبتونه او شوا خونونه وربیښ دي **دهوسۍ ډرامه** دهغو دردناکو او زړه ریبلونکو حادثو یو مرموز حماسي رویداد دی زړه لاټ بوډۍ




زه پینځه ویشت کلن وم، چې د وطن بدو حالاتو د «هوسۍ» منظومې الهام راباندې ووراوه.

زما ارواښاد استاد اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد، چې هوسی ولوستله، ورویې غوښتلم، په سترګو کې یې یو ځاځکی لا ډنډ ولاړ و، درانه غږ یې له غریو سره نور ابهت هم موندلی و. راته یې وویل:

د هوسۍ په اړه مې خپل تأثر کښلی دی، که چاپوله دې، بیا یې ورسره خپور کړه. او له دې سره یې په خپل ښکلي خط لیکلې سریزه « د هوسۍ د ډرامې په باب» راوسپارله.

تر دې ورهاخوا د استاد یوې بلې خبرې پرهغه مهال حیران کړم، استاد وویل:

«هوسۍ په داسې ځای پای ته رسېدلې، چې له دې ځایه بېرته هم پیلېدلای سي. خدای ج دې پر وطن ورحمیږي...»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اروابناد استاد له کراماتو ډکي وړاندويني ته هغه مهال ځير شوم، چي د هوسۍ د دويمي برخي د ليکلو تلوسه راپېښه شوه.

دا دی پوره پينځه ويشت کاله روسته، داسي مهال، چي زه د خپل ژوند پر پنځوسم درشل گام ږدم، د هوسۍ دويمه برخه‌کښل پيلوم، بلکي دوه فصله مي کښلي ده.

زه هوسۍ نه ليکم. هوسۍ بيا، د هماغه لومړي ځل په څېر، ځان پخپله راباندې ليکي. د هېڅ پېښي په اړه مي وړاندې فکر کړی نه دی، هوسۍ لکه الهام راباندې اوري.

هره پېښه، هره صحنه، هر داستاني شخصيت يې په مخه راځي او ځان راپېژني.

دا څو شپې مي خوب گډوډ دی، د هوسۍ بېلابېلي صحني په خوب وينم. ناارام يم، ستومانه يم، خپه او غمجن يم .
هوسۍ د وطن د غميزې داستان دی، کاشکي مو د وطن د خوښيو کيسي ليکلای. کاشکي مو د ميني او عشق داستانونه کښلی...

هوسۍ زخمي ده، د خپلواکۍ هوسۍ لاهم په سپېڅلي زمکه او پاکو اوبو د غنمو کرل غواړي، چي وطن له ربړو خلاص شي...

خدای دې نه کوي، چي - که ژوندی وپاېيدم - په پينځه‌اويا کلنۍ کي د هوسۍ دربېمي برخي ليکلو ته اړ شم.
کاشکي هوسۍ خپل ارمان ته ورسيږي او زه خپله بله منظومه په يوه عاشقانه و عارفانه کيسه راوڅرخولای شم .
دعا کوئ،

هوسۍ به ژر ستاسو د سترگو ترمخ راڅرگنده شي.

**ان شاءالله**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ